**داردستان دپشه يي ژبې نوم !**

**داردستان: (دارستان)**

داردستان دازمونږ دهیواد له ډیروپخوانیوقومونوڅخه یوقوم دی ،اوداد اریانا شمال شرقی څنډوکې یې استوګنه کوله او اوس هم دنورستان اوداردستان په سختواوغرنیوسیموکې اوسیږی . (۱)

بیابل ځائ کی محترم کهزادصیب دفرانسوی تاریخوپوه واله دوپوسن له قوله لیکی: داردیان (دا ردیکیان) چې دځنیوننبواوعلاموڅخه داسې معلومیږ چې داردیان له ډیروپخوانیو زمانو څخه له خپل ځایه خوځیدلی ندې ژبه یې ډیره پخوانۍ ده او ځنیی کلمی پکښې موندل کیږی چې د ویدې شکل یې ساتلی دی. (۲)

اوبیاتاریخ اوژبپوه ګریرسن په حواله یوبل ځائ کې لیکی چی ددوي خلکو ژبه د پیساکا ژبه بللی ده اوعلت یې دادې چې له هغوپراکریتیانو څخه د یوپراکریت سره ډیرشباهت لري چې د هندی صرف او نحوپه کتابونوکې د پیساکا په نامه یاد شوی دي . (۳)

داردستان : لکه څنګه چې بره ماخذونوکې وویلی شول له نورو اشارواوڅیړنوڅخه تیریږو یوازی د داردستان په اړه توضیح کوو ،لکه بره چې یادونه وشوچې داردستان سختواو غرنیوسیموته نسبت شوی دی،اوسنسکریت اودپراکرت لهجولفظ اوکلمه ګڼل شوی او بیا ځنی نوروتاریخی کتابونوکې د شرقی هندوکش څنډونه واخله تر شمالی هندپورې ټول سیمې ته داردا ، داردي،دارستان اوداردستان په نامه خپلو لیکنو کې یاد کړی دی .او اوس راځودې ته چې آیا داردستان د ننی پشه یي ژبې سره څه نږدیکت لري اوکه نه اوکه لري څه معنی دی دلته ډیرڅیړ نه نه کوو یوازې لفظونو او لغوي او اصطلاحی معنی کوو.

داردستان له دوو کلمو څخه جوړ ده یو (دار)اوبل یې (ستان) چې پدی کې دا دوهم (د) دال حرف اضافی دی .

**دار :** د (دار) لغوي معنی غراولرګی په معنی دی. چې نورو معنا ګانو سره هم راځی خو زه دلته هغه معنی لیکم چې کوم عام اصطلاح دی او تاریخ پوهانو اطلاق پری کړي دی .یعنی پشه یي کی عام اصطلاح یې غر دی .

**س :** چې پدي کی (س) پشه يي ژبه کې نسبت او یا افعالو جمع کولو دپاره راځی او کاروړل کیږي.

لکه :الله پاکس : دالله پاک . قلمس : دقلم. کتبس : دکتاب . ایمیس : د دي. ایتیس : د هغه . افغنس : یاافغانس : دافغان . تاجکس : د تاجک . پشه ئیس : دپشه يي. عالمس اغتی : دعالم خبری.او همدا سې نور.

**تان:** دپشه يي ژبې ( تیک یا تانیک) شتیدل، میشتیدل مصدرڅخه را وتلی اسم مکان فعل دی چی ځاي دپاره کار ول کیږي او نسبت دی،چې دپشه يي لهجوپه تناسب سره څوک تان وایی اوڅوک وا ومجهول سره( تون) وایی ،چې پرځائ ولاړ ستن ته هم (تون، تُن) ویلی کیږی .یعنی ناستی،مشیت یا میشتیدنې ،معلوم ځائ اوخونی ته اوهم ځائ پرځائ ولاړې معنا سره راځی .

لکه : تان : ځاي ،تانا : مرکز، تانی: مرکزی ځای، تانک : خونه او جمع یې تانیک او تصغیري حالت یې - ټونک

: ځائیگوټی یا نښه شوی ځائ همداسې نور.

**دار – س – تان :** اوس راځو دې ته چی دا کلمې ( دار+ س+ تان ) څنګه یو بله سره تړل کیږي

لکه : دار- غر، س - نسبت یا نښلونه، تان- ځائ یعنی (دارس تان ) چې عام املا له روئیه (دارستان) لغوي معنی یې غریزه، دغرونو ځائ ،چې پدې کې یو (ر) پسی (د) دال حرف اضافی دی کوم چې عام اصطلاح سره کارول او لیکل کیږي اومشهور دی ( داردستان) چې بیا ددی لغوي معنی یې غرئیزه سیمه یادغرونو سیمه یاغرونوسلسله په معنا سره جوړ یږي .

او اصطلاحی معناګانی یې لمړي سرکې شوي دي.او ددی سیمی خلک او ژبه یې تاریخ او ژبپوهانو لخوا (داردي شوی چې یوعام نوم دارد ستان او خلکو ته یې داردي ) نومول شوی چې داردستان اودی سیمی ته منسوب دي ویلی شوی دي ،چې بیا همداراز دارستان ته ورته ډیر نومونه مونږ خپل چاپریال او له چاپریال نه بهرهم په ستر ګو کیږي .

لکه: نورستان ، کابلستان ،زابلستان ،سیوستان، تخارستان، ترکستان، افغانستان، هندوستان پدي نومونوکې چې هر یونوم څوک جدا او بیل بیل کړي بیا بیرته را یوځا ئ کول به یې ضرور د پښه یي ژبې ګرامر ته اړیاسی یعنی له مخې به کیږي.

**محاورې :**

١١ دارس کوچئ پاسرا شِن . یعنی دغرپه خیټه کې خزانی دي .

١٢ یماس تان اندوګُش شیت . یعنی دبازخونه هندکش دی .

١۴ افغانس تانیا کندارشی .یعنی دافغان وطن قندهاردی.

١۵ مکتب معلمس لړیک تان شی. یعنی مکتب دمعلم ښوونې ځای دی.

متل : لامائ شوړنګنا که سوستیابیک، دارائ شوړینګ لامه نینګیاکن!

یعنی دکلی سپي چی کمزری شی له غره نه ګیدړ راکوزیږي .

شعر: دارستان وطنی پئي لهه وطنے کوئیک اَچي

\+ اکه خالی بي خبر لهه وطنے نیؤ موچي. ( مات حسن خان) پخوانی شاعر:

یعنی که غرئیزې سیمی ته لاړشی نوخالی لاس به بیرته راستون شی څه به پکښې مونده نه کړي .

شعر : اکه نهِ بوجیکی داردستان آوزیدې

\+ مکاَن یان بوجې اسرافیل آوزیدې (نورونی)

یعنی شاعر پشه یي قوم ته یوکنایه کې وایی که ته د داردستان په آوازسره هم ویښ نه شوې کیدائ شی چی بیا داسرافیل په آوازبه ویښ شی. (نوموړی شعر د پشه یي ژبې مهالنی مجلی پرتندہ لیکل شوی)

**نور ببلګوپه توګه دکليو اوځايونو نومونه:**

**دارستان :** په سوات کوهستان کی ديوی غر اوځای نوم . (يعنی غره يزه سيمه )

**دار دري :** د لغمان ولايت په اليشنګ ولسوالۍ کې د يوځای او کلی نوم . (يعنی دغره دروازه)

**دار واړا :** په لغمان الينګار تميل په دره کی ديوی ځای نوم . (يعنی دغره ناستې ځائ)

**دار واز :** په بدخشان ولايت کی ديوی ولسوالی او دری نوم . (يعنی دغردروازه)

**دار:** دغزنی ولايت دجاغوری سنګ ماشه و دجنوب ختيځ په ۱۷۵کيلو متری کې ديوی کلی نوم. (

**دارخيل:** دپکتيا ولايت د ځاځيوعلی خيلوجنوب خيتځ ته يو ی کلی نوم (دغره خلک)

**دارګلی:** دننګرهار ولاايت دکامی ولسوالی کې ديو کلی نوم . ( يعنی غرګوټی)

**دارګی:** دخوست ولايت متون قريبی لويديځ په ۱۸کيلو متری کې ديوی کلی نوم . (يعنی غروګئ)

**داری:** دپکتيا ولايت دځدرانو وزی قريبې جنوب ختيځ په ۲۱کيلومتری ديوی کلی نوم. (يعنی غر يا غره يزه )

**دارډيک:** دباميانو ولايت دپنجاب د مشک کلا جنوب لويديځ ته ديوی کلی نوم. (يعنی دغره خلک يا وسيدونکی )

**درمن:** دبدخشان ولايت دروازولسوالی د دروان کلی جنوب لويديځ ته ديو کلی نوم . (يعنی دغرونوځای يا ځال

**دارخيل:** دپنجشيروالسوالی کی يوی قبيلې او کلی نوم. (يعنی دغره خلک يا قبيله)

**داروڵی :** په دير کی د تالاش ته نږدې يو کلی او ځای نوم (يعنی دغرونوډيرئ يا دلرګوټال)

**دار روړا :** په ديرکی کې ديوی سيمی اوځای نوم . (يعنی اوچت غر يا دلرګولوی ټال)

**داريل :** دګلګت او دير ترمينځ ديوی سيمی نوم کوم چې يوغريزه سلسله ده . ( يعنی دغرونوسلسله يا پرله پسی غره يزه سيمه .


**ماخذونه :**

۱\ دافغانستان پخوانی تاريخ ص۱۲۲-کابل چاپ) .احمدعلی کهزاد .

۱\۲دافغانستان پخوانی تاريخ ص ۱۲۷ ،لومړی ټوک. احمدعلی کهزاد

۱\۳دافغانستا ن پخوانی تاريخ ص ۱۲۷ ،لومړی ټوک ،احمدعلی کهزاد .

۱\۴ پشه يي ديوان (پشه يي پخوانی شاعرانوشعرونه . (ف صادقی ټولونه . ناچاپ .

۱\۵ پشه يي متل : دفضل الرحمن صادقی ټولونه . ناچاپ .

۱\۲ دافغانستان جغرافيه قاموس مختلفی ګڼی .



ليک : فضل الرحمن آخندزاده (صادقی)